

Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ *Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 133-143*

# The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto

**Abdul Jalil Hashimi**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan..

**Corresponding Author:** Jalil Hashimi, **E-mail:** hashimi@baghlan.edu.af

**Article Info** ABSTRACT

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

**Received:**
17, February, 2025

**Accepted:**
9, June, 2025

**Published:**
20, August, 2025

Pashto poetry varies linguistically. The themes across different literary periods have been changed. However, contemporary poetry often includes themes for instance; love for one's own country, nationality, independence, and nature. Many contemporary poets have written verses condemning and seeking to prevent certain bad or unwanted traditions. This encouraged me to develop an article under the title "The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto" because, low attention is given to such topics. This paper is focused on presenting contemporary poetry. In addition it also analyzes poems that address the prevention and application of unwanted customs, for example, excessive price of marriage, gender discrimination, neglect of children's rights, ignoring women's rights as well as insincere charity. The writing of poets such as Ustad Alfat, Pir Muhammad Karwan, and Baha'i Jan are examined to illuminate and persuade people to leave such kinds of traditions and costims. The aim is to inspire the nation to adopt better customs and apply them in life, thereby encouraging societal and national progress. The description and analytical method of analyzation has been used in this article for the data. This article also includes methodology, discussions, conclusions, and references.

**Keywords:** Poetry, Unwanted customs, Ways to prevent Bad Customs

To cite this article: Hashimi, A: 2025. The Reflection of Certain Bad Customs or Traditions in Contemporary Poetry of Pashto. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 2, Serial No. 37 - Summer (2025), 133-143.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan



د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 2, Serial No. 37 (2025) 133-143


# پښتو معاصر شعر کې د ځينو ناوړه دودونو انعکاس


**پوهندوی عبدالجلیل هاشمي**

بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو څانګې استاد.


| اطلاعات مقاله | لنډيز |
|---|---|


**نوع مقاله:**
مقاله مروری

**تاریخ دریافت:**
۱۴۰۳/۱۱/۲۹ هـ‌ش

**تاریخ بازنگری:**
۱۴۰۳/۰۱۱/۲۱ هـ‌ش

**تاریخ پذیرش:**
۱۴۰۴/۰۳/۱۹ هـ‌ش

**تاریخ انتشار:**
۱۴۰۴/۰۵/۲۹ هـ‌ش



پښتو شعرونه، په بېلا بېلو ادبي دورو کې د ژبني سبک او موضوعاتو له پلوه جوت توپیر لري؛ خو معاصر شعر زیاتره د هېواد سره مینه، ولسپالنه، خپلواکي، د طبیعت سره مینه او دې ته ورته نور موضوعات په خپله لمن کې رانغاړي. پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو د غندنې او مخنیوي په اړه چې کوم شعرونه زموږ د معاصرو شاعرانو له خوا ویل شوي دي، خورا ارزښتمند دي، لوستل یې انسان متاثره کوي؛ نو ما هم وغوښتل، چې ( پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو انعکاس) تر سرلیک لاندې پرې مقاله ولیکم؛ دا ځکه چې په دې اړه تر اوسه کومه تاګلې څېړنه، نه ده شوې. دې څېړنیزه د معاصرې ادبي دورې هغه شعرونه د راوړل شوي او تحلیل شوي، چې د ناوړه دودو د مخنیوي او غندنې په اړه دي. لکه: لوږ ولور اخیستنه، د جنسیت تو پیر، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، د ښځو حقوق نه ورکول، د ریا خیراتونه، په دې د استاد الفت، پیر محمد کاروان، بهايي جان په کره شعري بېلګې راوړل شوي او تحلیل شوي دي؛ ترڅو د دغو ناوړه دودونو د مخنیوي په وړاندې ملت د سمو دودونو انګیزه پیدا کړي او په ژوند کې یې پلي کړي او ټولنه او ملت د پرمختګ په لوري وهخوي، په دې مقاله کې مې د کتابتوني او تحلیلي کړوله مېتود څخه ګټه اخیستې، مناقشه، پایله او اخځلیکونه هم لري.



**کلیدي کلمې:** شعر، ناسم او ناوړه دودونه، د ناوړو دودونو د مخنیوي لارې چارې

استناد: هاشمي، عبدالجلیل. (۱۴۰۴)، پښتو معاصر شعر کې د ځینو ناوړه دودونو انعکاس، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، تابستان(۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۷، دوره۱۳. (۱۳۳-۱۴۳) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سريزه**

معاصر شعر کې د ځينو ناوړه دودونو انعکاس تر نامه لاندې څېړنيزه مقاله، په شعري بېلګو کې د انساني ټولنې ناوړه دودونه تحليلوي شاعرانو په خپلو شعرونو کې د سمو دودونو ترڅنګ ناوړه دودونو ته هم پوره پاملرنه کړې، د دغو ناوړه دودونو غندنه يې په شعري ژبه کړې، دا غندنه يې په دې موخه کړې، چې د خپلو خلکو د ناسمو دودونو د اصلاح او سمون د پاره سمې کړنې ترسره کړي. ناوړه دودونه هغه دودونه دي، چې زموږ په اسلامي ټولنه کې له شريعت سره په ټکر کې وي او د انسان فردي او ټولنيز ژوند ته معنوي او اقتصادي زيان رسوي، د ملت مادي او معنوي ارزښتونه، نه شي ساتلی، دا ډول دودونه، ټولنه د پرمختګ او سمون په لوري نه شي هڅولی، ستونزې، ناخوالی او نا امني له منځه نه شي وړلای، بلکې مينه، محبت او يووالی له منځه وړي، دا ناسم دودونه په ځانګړې توګه د ودونو په مراسمو کې په اقتصادي لحاظ د اقتصاد ملا ماتوي؛ نو بريالی ټولنه همغه ده، چې خپلو ناوړه دودونو ته پوره پاملرنه وکړي، د ناسمو دودونو د اصلاح او سمون د پاره هلې ځلې وکړي، د همدې بنسټيزې موخې په توګه دا څېړنه تر سره شوې ده؛ تر څو دا ليکنه د لوستونکو سره مرسته وکړي، چې دا ناوړه دودونه په ژوند کې پلي نه کړي، لکه چې يو شاعر د ناپوهي او بې سوادي په اړه وايي:

نـاپـوه خـوښ يـم راځه پاته هر کمال دی

غـوړولـی مـې پـر سترګو جهل جال دی

جـهـل نــسيم او لـه عـمـله څـخه تښـتم

دوست د ښمن نه پېژنم دا مې احوال دی(خواخوږی، ۱۳۸٦: ۴۸)

په دې مقاله کې د هر ناوړي دود تر نامه لاندې، لکه لوږ ولور اخيستنه، د جنسيت توپير، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، د ښځو حقوق نه ورکول، د ريا خيراتونه، دې ته ورته شعري بېلګې راوړل شوي، بيا تحليل شوي؛ نو په نوموړې څېړنېزې موضوع تر دې دمه پورې هېڅ کوم ليکوال، اديب او څېړونکي څېړنه، نه ده کړې او نه تر اوسه کومه ځانګړې متن په دې هکله زما ترسترګو شوی دی. موضوع پوره نوې ده، د څېړنې ارزښت لري، په شعر کې د ناوړه دود په مخنيوي او غندنه کې د شعر ونډه، تر خپل توان پورې شعرونه څېړلي، تر څو د دې مقالې په لوستولو سره په ټولنه کې

څه نا څه د دودونو په برخه کې مثبت تغیرات را وستل شي، لکه د لوړ ولور اخیستنې ناوړه دود په اړه څو لنډۍ دلته راوړم:

زه بــه دې مـــور تــــه زاری وکـړم
پـلار دې ظالم دی د ولور تمه لریـنه
ورشـــه لــه بـلـخــه دنـیـا را وړه
پـه کورنی دنیا مې پلار نــه ور کوینه
د هــنــدوسـتـــان ولـــور تــه ځـمـه
د شـیـرنــو ولور په خپل لاسو، ګټمه(فیضار،۱۳۵۴: ۱۶۷)

## د څېړنې روش

د ټولو علومو د غوړېدا لپاره څېړنې او د څېړنې مېتودونو ته اړتیا ده، چې هره پوهه د څېړنې د مېتودونو په بنسټ تحلیل او روښانه څېړل کېږي؛ نو ما د دې مقالې د لیکنې پر مهال د (تشریحي-تحلیلي) مېتود څخه ګټه اخیستې او اوس دلته خپلې اصلي موضوع ته راځم.

د لوړ ولور اخیستنې په اړه شعري بېلګه:

تــاتـــــه وایـــم د لـــــور پـــــلاره
ولـــور مـــه اخـــــله دیـــــنداره
کــه دولـــت لـــه زومـــه واخـــلې
خـــور او لـــور بـــه دې شـــي خـــواره
هــــم لـــه ځـــانـــه پیـــسې ورکـــه
ظـــــروف و فــــروش تـــر ســمـــا واره
ســبـا درومــــي ســتـا لـــــه کـــوره
زړه خــپــه تـــــــــر بـــــل دیـــــاره
ســـر بـــه یـــې لـوړ وي د زوم پـلاره تــه
شـــي بــه یـــې خــوابـــې مــنـت بـــاره
خـــالـــي لاس کــــه دې واده کـــړه
وي بـــــه میــنـځـــــه خــد مـتـګـــاره
یـــو بــه شـــي لـــه سـیـالــه کـمــه
بـــل بــه شـــي لـــه تـــا بـــې زاره
ټـــــولـــــوي بــــه د بـــل وږي

وړې تــــــبرې هــــم قــرضـــــداره
پـــــاك نبـــــي حــضـرت عـــلي تــــه
ورکـړه لـــور پــــه لـــس دیـــنـــــاره
کـــه نـــبــــیان دي کـــــه ولــــیــان دي
لــــــــــرې گــــــــرځـــــي لــــه آزاره
ورکـــــــړه لــــــور بـــــهـــايـــي جانــه
خپل وراره تــه بــــې ســــناره (واجد، ۱۳۸۴: ۷۳)

شاعر په پورته شعر کې د لور پلار ته خطاب کوي، چې مسلمان او دینداره هم یې، نو غوره ده، چې د ډېر ولور اخستل ناوړه دود دی، که چېرې ته زیات ولور له خپل زومه واخلې؛ نو د ژوند تجربو ښودلې، چې د دغو ناوړه دود په وجه دوستی په دښمني بدله شي او هم به ستا لور او خور خواره شي، شاعر د خپلوي نه مخکې د خپل لور او خور ډېر ولور اخیستنه ناوړه دود په وجه د هغې د سم او ناسم ژوند حالت یې په شعري انعکاس کې وړاندې کړی دی، د دې څخه وروسته دلور پلار ته وايي: چې د لور او خور ته دې د کور اړین توکي لکه: فرش، لوښي او داسې نور توکي ورکړه او کله چې دا دکور اسباب ورکړې؛ نو طبعا د خپل پلار له کوره به خوشحاله اوځي؛ نو شاعر د هېواد وګړي دې سم دود ته را بولي، چې خپل لور او خور د زیات ولور اخیستنې او د مادیاتو په وجه خپه نه کړې؛ ځکه دا لور او خور دې بل کور ته او بل هېواد ته واده کېږي، د کمې مودې د پاره ستا په کور کې وي، دلته شاعر د لور او خور څو ورځې ژوند د پلار کره پاتې کېدل او هغوی ته د کور اسباب اخیستل او له ځانه پیسې ورکول، نه خپه کول، دغه ناوړه دودونه د ښادۍ پر ځای د غم سبب ګرځي.

په دې پېسې پیوست شاعر په شعري ژبه د لور پلار ته لارښوونه کوي، چې خپلې لور ته دې د کور او نور د ژوند اړین توکي ورکوه؛ نو د خسر د کور ټولو غړو ته، به سر لوړې وي او هغوی ته دې سر لوړې کړه او په راتلونکي وختونو کې ورته کومه تانه، نه ورکوي، که خالي لاس دې واده کړه؛ نو ستا لور او خور ته د خسر کور کې آزادي نه ورکوي او د مینځې په توګه ژوند کوي او مینځه به وي، دلته د لور او خور کم ولور اخیستنه او د ژوند اړین توکي ورته د سرلوړي سبب دی.

شاعر په خپله دغه شعري انعکاس کې د ولور اخیستونکي پلار ته نصیحت کوي او دې ته یې ملتفت کوي، که ولور دې ډېر واخیست او خپل لور او خور دې خالي لاسونه واده کړه؛ نو یو به له خپلو سیالانو کمه وي، بل به هم له تا بې زاره وي، همدارنګه به د ولور قرضدارۍ له امله، چې پخوا به یې د غنمو وږي ټولول، نو ستا لور به هم د پور له امله وږي ټولوي، چې داسې ناوړه دودونه یو داسې

بد حالت رامنځته کوي، چې دغه ناوړې دودونه شاعر په ښکلو کلماتو او الفاظو په وسیله کښلي دي، چې داسې حالتونه موږ په خپلې ټولنې کې هر وخت مشاهده کوه یې.

شاعر په دې مقطع بیتونو کې خپلو مسلمانو وګړو ته ښوونه کوي، چې تاسې دینداره ولس د خپلو لوڼو او خویندو لوړ ولور یو ناوړه دود دی، لکه څرنګه ستاسو لارښود سرور د کاینات فخرالموجودات حضرت محمد(ص) خپل لور حضرت علي(رض) ته په لس دیناره ورکړه، له دې څخه زیات ولور د ازار او اذیت سبب کېږي، نو کم ولور یا بیخي نه اخیستلو دود د ټولو نبیانو او ولیانو خوښ دی ، همدارنګه بهایي جان خپل ځان ته خطاب کوي، چې خپله لور وراره ته بې پیسو ورکړه، یعنې یوازې وایي نه بلکې په ځان یې هم عملي کوي، نو داچې موږ مسلمانان یو باید د خپل پېغمبرانو په سبک او په پله روان شو؛ نو بهایي جان ناوړه دودونو حالت کښلی دی او داسې دودونه یې غندلي دي. شاعر په خپلو اشعارو کې د تل د پاره ښوته ښه وایي او بدو دودونو ته بد وایي، بهایي جان د ولور اخیستنې شعري انعکاس کې پیغام د لور پلار ته د ولور نه اخستلو پورتنی نصیحت کوي، چې د لور او خور د ولور په اخیستلو کې دې زیاته بې پروایي و نه شي .

د جنسیت توپیر په اړه شعري انعکاس:

زوی او لــــور پــــه حســـــاب یــــو دي
فـــــــکر وکـــــوه هـــــوښـــــیاره
پــلار کــه مــړ شــي بــاک یـــې نــشــته
ښـــــــه ده مـور د لـور دپـــاره(واجد، ۱۳۸۴: ۷۳)

شاعر ولس ته لار ښوونه کوي، چې لور او زوی دواړه یو دي، یو په بل کوم برتري نه لري، یوه سترګه دې زوی دی او بله سترګه دې لور ده، چې باید توپیر یې ونه شي، چې تو پېر ته شریعت هم اجازه نه ورکوي، که د ژوند اړین توکي یا مینه او عاطفه باید دواړه سره یوشان وشي او د دواړو ترمنځ عدالت تامین شي، چې دا د بهایي جان په شعري ژبه یو ناوړه دود ګڼلی، د لور د پاره د پلار په نسبت د مور ژوند اړین ګڼي، ځکه چې د مور خپلوان نسبت د پلار خپلوانو ته ګران هم وي، خو د مور مشوره او لارښوونې، تربیت د مور مسولیت زیات وي او مور ژوندیتوب د لور د پاره اړینه ګڼي.

د جنسیت د توپیر په اړه بله شعري بېلګه:

بد بختي چې دا هـــــر ځلې اولاد زېږوې لــــور وي
اوس وایه په دې کور کې به مې څه سکون سـرور وي

کــه داځـــلې دې لــــور وه زېږولې بیا دې وژنم
کــه ټول عــالم خبر هم شي په سپین سـبا دې وژنـم
مـېـرمـنې چــې خـــولـه پرانسته په ډېره عــاجـزۍ
اواز یـې لونـد پــه اوښـکـو سـره په وینو یې سلګۍ
دا څــــه وایــي تــــوبــــه وبـــاســـه کفر غـبږوې
کـــارونــه دې تــقــدیـر دي تــه یــې څنګه بـدلوې
که لور وي او کــه زوی وي د الله له خــوا ډالــۍ دي
مــرغـــان دې د جـنـت، د مـاشـامـونــو ډیوه کۍ دي
(کاروان،۱۳۹۸: ۷۱۳- ۷۱۴)

د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنې په اړه شعري انعکاس:

د غــریـب د کالـه ماشوم دی هر هلك یو ځل وهـلی
نــاز یــې هیڅ نـه دی لیدلـی، پـــه ژړا کور ته راغلی
چـا اخیـستی غـېږ کــې نــه دی له سپرو خاور نه کله
کـور او کلي کې بې قدره خوار او زار دی اوسـېدلی
پـه مکـتب کې لیده نه شي مدرسې ته یې پرېږ دي نــه
لا تـــر اوســـه مـعـلم تــه یـــا مـلا تـــه نه دی تللی
ریـســانــو حـــاکـمـــانــو ورتــه هېـــڅ کتـلي نه دي
د لـــویـــانـــو مجلس ته هېڅکله نه دی ورغـــــــلی(روهي، ۱۳۸۶: ۱۱۷)

د ماشومانو حقوقو ته پام نه کول، هم یو ناوړه دود دی، په ځانګړي توګه غریب ماشومان، چې په کور او کلي کې بې قدره او په ښه یا درنه سترګه ورته نه کتل کیږي، هر څوك یې وهي، چې دارنګه ماشومان زمونږ د هېواد په ځینو سیمو کې موجود دي او زمونږ د ټولنې اکثرو سیمو کې د ماشومانو حقونو ته پاملرنه، نه کیږي. د دې پر ځای چې ښوونه او روزنه پرې وکړي، سخت او دهقاني کارونه پرې کوي او د هغوی حقوق تر پښو لاندې کوي او ځانګړې پاملرنه نه ورته کیږي.(ازهري، ۱۳۹۸: ۱۴۵).

د ښځو حقوق نه ورکولو په اړه شعري انعکاس:

بــادونـه د خــزان غـوټــۍ خندا تــه نــه پــرېږدي
ظـالــم صیاد بـلبـله د ګل خــواته نــه پرېږدي

اخــتيار مـې د ځان نشته دی د جبر په مذهب یم
دا دا مــې خپــلې خـوښــې او رضا ته نه پرېږدي
هېڅ نـه شمه ويلی چې په کوم کور کښې بــه سوزم
زمــا د زړه لالیـه! څــوك مــې تـا ته نــه پرېږدي
پــرچــا وکــړم عــرضــونــه چاته وکــړم ژړا زه
دا بــد رســـم و رواج مـې حق ويناته نـه پرېږدي
وهــل کـه تېـګــول وي چـــاتـه هېڅ نه شم ويلی
ظــالــم مــې هـــم وهي هم مې ژړاته نه پرېږدي
د جــهل پــه تــياره کــې بــه اوسيــږمـه تر کله؟
مــا څــوك د عــلـم و فن پوهې رڼا ته نه پرېږدي
لــه ما نـــه تـــربيــت د پــوه اولاد غوښتل خطا دي
تعلیم تــه مــې چې څوك د مكتب خواته نه پرېږدي( الفت، ۱۳۸۵: ۵۰)

د ریا خیراتونو په اړه شعري انعكاس:

مه کــړئ د ریـــا لـپــاره مــا پـــسې خیـرات
ځـــان پــسې نـه غـواړم خــیـراتــونه چشمگیر
ورکــړئ خـــریــبانــو ته که وي زمـا څه مال
پټ غوندې له خلکو چې پــه کې نـه وي تشهیر
خدای ته ډېر ډېر نیږدې وي له هرچا څخه الفته (الفت،۱۳۸۷: ٦٠)

د رسم او رواجونو په اړه شعري انعكاس:

د دنــيـــــا رســـم او رواج
نـــه بـيـنـا گـــوري نه ړونـــد
د شـهـی شـاهــو کـــه ړوند وي
رواج کـــلـــه دی بـیـــــنـــا (الفت، ۱۳۷۵: ۳۷۱)

د ناوړو دودونو یوه بله شعري بېلګه:

نـــه مـطـــق دلـتـه چلــيـــږي
نـــــــه د عـــقـــل نـصـيـحت
مـــــاتـــوي د اقــتـصـاد مـــلا

درانـــــه پـېــــتــی د رواج
زورور دي رواجـــونــــــــه
ځـــکه نـــه اوري دلـــــيـلونـــه(الفت، ۱۳۷۵: ۳۷۲)

استاد گل پاچاالفت ناوړه دودونه غندلي دي، دا ډول ناروا رواجونه چې په شعر کې يې انځور وړاندې کړی دی، ناروا گڼلي، له دې شعري کلام څخه دا څرگندېږي، چې استاد خپلې ټولنې ته لارښوونه کوي، ترڅو هغه رسوم او دودونه، عادتونه چې د اسلام او شریعت په رڼا کې سره سم وي، باید هغه سم دودونه په ژوند کې پلي کړئ.

پیر محمد کاروان صاحب د خپل منځیو جکړو د مخنیوي په اړه وايي:

د رحـمـت پـــــرودگـــاره
پرموږ ډېر دمينې پـام کړه
د مـــورکـــې وطـــن غــېږه
راتـــه، تـــه دارالسلام کـړه
بس د زړه زور مو تمام دی
د جــنگونــو اخــتــمام کړه
لـه گاونــډ او لــه پـردو مو
ربـه ســاتــه پـــه آمــــان
تـه خـــو مــينه يې ښکلا يې
تـــه قــهــار يې تـه رحمان
خـوږ د امـــن يـقــين راکړه
د تــراخـه جنــگ لـه گومان
دا وطــن لکـــه گــريوان دی
تار په تار ديتيمان(کاروان، ۱۳۹۸: ۹۷۱ )

**مناقشه**

موږ په خپله کې ډېر ناوړه دودونه لرو ړ؛ خو د اسلام مبین دین اسلامي ټولنې ته اجازه نه ورکوي، چې په ژوند کې ناوړه دودونه عملي کړي بلکې دا ناوړه دودنو د پاره يې لازمې او اړینې لارښوونې بیان کړي دي، بیا که څوک دا ناوړه دودونه په ژوند کې پلي کړي د هغوي د پاره يې په اسماني کتابونو کې درد ناک عذابونه تعین کړي دي، د داسې دودونو د پاره امر باالمعروف او نهې عن المنکر

اړوند کسان یې د بدو کړنو او ناسم دودونو مخنیوی لپاره ټاکلي دي، چې دا کسان د اسلامي اصولو د پراختیا لپاره اړین دي. ناسم دودونه، چې په دنیا او اخرت کې د انسان د هلاکت او بر بادئ سبب کیږي؛ نو اړ یو چې سم دودونه په ژوند کې پلي کړو او د ناوړودودونو څخه ځان وساتو، تر څو مو د دنیا او آخرت د بریا ، نیکمرغی سبب شي، دغو معاصرو شاعرانو د ناوړه دودنو ترڅنګ د سمو دودونو انعکاس هم په خپلو شعرونو کې کړی ده. لکه: جرګه او مرکه، مېلمه پالنه، د ناروغ پوښتنه، په اخترونو کې خوښۍ کول، د ې ته ورته سم دودونه په خپلو شعرونو کې یادونه کړې ده.

ځینو مسلمانانو د خپل فکر او عقل له مخې خراب، ناسم دودونو ته مخه کړې ده، که فکر وکړو،موږ ډېر داسې ودونه لیدلي دي، چې شاعرانو یې په خپل شعر کې هغه ناسم دودونه غندلي دي، د غو شاعرانو په خپل شعر سره سم اسلامي شریعت ته په پام سره ناوړه دودونه بیان کړي، په دې مقاله کې تحلیل شوي دودونه ناروا دي او موږ ته یې له اسلام پرته د بل څه سپارښتنه نه ده کړې. د دې ترڅنګ دیني عالمانو هم په منبر ناوړه دودونه بد ګڼلي، پر هر مسلمان واجب دی، چې اسلام له رسوم حتی له مور او پلار او ټولو کایناتو نه لوړ وګڼي او د اسلام په مقابل کې هیڅ شي او ناروا دودنو ته ارزښت ورنه کړئ، په شریعت ایمان لرو، خو بیا هم په خپلو ناوړو دودونو ویاړو.

په دې موضوع اړوند نه یوازې شاعرن یا بلکې دیني عالمان او د کلیو امامان، قومي مشران او د ځواک څښتنان کولای شی، چې په دې ناوړو دودونو په مخنوي کې خپله دینی مسووالیت او دینی وجیبه په سمه توګه تر سره کړي او په دغه ناوړه دودو د مخنیوي لارې چارو په اړه جدي اقدامات ترسره کړي، ترڅو پورې دا ناوړي دودونه د انسان د دنیا او اخروي ژوند د هلاکت او بد بختۍ سبب نه شي.

**پایله**

دا چې د ناوړو دودونو څخه پلار د لور د لوړ ولور اخیستنې دود زموږ په ټولنه کې ډېر دی، د دغه ناوړه دود د مخنیوي په اړه شاعرانو نسبتآ د نورو دودونو په پرتله، ډېرې شعري بېلګو کې انعکاس کړي دي، خلکو ته یې پخپلو په زړه پورې شعرونو کې د دې ناوړي دود په اړه اړینې لار ښوونې کړي دي او په څرګند ډول یې ورته په شعري ژبه د نجلي پلار ته نصحت کوي، د نجلۍ پلار ته د لوړ ولور نه اخستلو او لور او خور په کور کې ساتل مناسب دود نه ګڼي، او په ځینو شعري بېلګو کې یې په ډاګه داسې وایي: چې لور د ې خره نه ده ، چې د پیسو په مقابل کې یې خرڅه کړې بلکې یوه انسانه ده ، که خرڅه دې کړه، نو د محشر په ورځ به څه کوې.

دغه ناوړو دودونه لکه: (لوږ ولور اخيستنه، په بدو کې ښځه ورکول، ماشومانو کې د نر او ښځې توپير، د مړي خښول، بدل(شغار) د ښځو حقوق نه ورکول، بې سوادي او په اسلام نه پوهېدل، د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه، اصراف کول او د نوې عصري تکنالوژي څخه ناوړه کټه اخيستل) دې ته ورته ناوړو دودونو په هکله شاعرانو په ښکلو الفاظو کې بيان کړي دی، دغو شاعرانو خلک هڅولي دي، چې د ناوړودودونو د تر ويج څخه ځانونه وژغوري، تل د افغاني او اسلامي رواجونو او سمو دودونو څخه په ژوند کې ګټه پورته کوي، خو ما د پورته ياد شوو ناسمو دودونو په هکله ځينې شعري بېلګې را وړې دي او د ځينو بېلګو په را وړو ونه توانيدم، چې دلته راوړم.

دا ناوړه دودونه که څه هم زموږ د فرهنګ جز ګنل شوی دی، چې د يو هېواد او ټولنې خلک ناسمې لارې په لور سوق کوي، دغه اغېزناک شعرونه کولای شي، هر ډول ناسم دود په اړه پوهاوی او شکونه له منځه يوسي، خپل فرهنګ او سم دود تلپاتې وساتي، حتی نړيوالوته خپل سم دودونه په شعري ژبه او نورو روشونو په وسيله ښکاره کولای شي.

**مأخذونه**

الفت، ګل پاچا.(۱۳۷۵). شعري کليات.(دريم چاپ). ترتيبونکی شهرت ننګيال. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

لفت، ګل پاچا. (۱۳۸۵). د الفت نثري کليات. د عبدالرحيم بختاني په زيار. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ازهري، فريدالله. (۱۳۹۸ ل). ناوړه دودونه او د شريعت په رڼا کې د هغو حل. اول چاپ. کابل: د ارشاد حج او اوقافو وزارت د اسلامي علومو د مطالعاتو رياست.

حبيب زوی، عبدالرحمان. (۱۳۹۵). د بهايي جان کليات. پېښور: لوکرانا خپرندويه ټولنه.

خواخوږی، محمد ابراهيم. (۱۳۸٦). د مينې وږمه. کندهار: د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولنه.

روهي.محمد صديق.(۱۳۸٦).ادبي څېړنې.پېښور:دانش خپروندیه ټولنه.

کاروان، پيرمحمد. (۱۳۹۸). نغمه زېږدې زمانې کليات. کابل: د افغانستان د خپلواکی بېرته اخيستلو د سلم کال په وياړ.

نورستانی، عاطفه. (۱۳۸۸). په پښتو لنډيو کې د مور مقام. کابل: کابل مجله. (۱۱- ۱۲)ګڼه. دولتي مطبعه.

واجد، عبدالواجد. ( ۱۳۸۴). د بهايي جان کلياتو ته يوه لنډه کتنه. کابل: کابل مجله. (۸-۷)ګڼه. دولتي مطبعه.

يون، محمد اسماعيل.(۱۳۸۷). دالفت نثري کليات. کابل: يون کلتوري يون.

فيضار، شيراحمد او حبيب الله. (۱۳۵۴). د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز سيمينار د مقالو مجموعه. کابل: پښتو ټولنه.